PASHTO ASSIGNMENT ABID ALI # 64

__/__/202 Day:____

سوال: د خوشحال خان خټک په رزمیه شاعرۍ باندې بحث وکړئ۔

خوشحال خان خټک یو لوئې ادیب او شاعر نه وو بلکه یو بهترین مشر هم او جنګجو هم وو۔ د ده رزمیه شاعري په دنیا کښې د عزتمند پاتې کیدو دپاره د مزاحمت، د وطن دپاره سر په تلي کښېښودو او د مغل سره د دشمنۍ د اثارو نه متاثره ده۔ خوشحال خان ځان بخپله هم یو ښه جنګجو ګڼي او په دې فخر هم محسوسوي۔ لکه یو ځائې ښې وائي چې

شعر:

لا په خوب کښې په لرزه پریوځي له کړه
چې د چا تر غوږ زما د لورې شرنګ دے
که په دا دور مې ګوري هغه ځه یم
چې مې داغ په خاطر ایښے د اورنګ دے

د خوشحال په شاعرۍ کښې د ځوان دپاره نصیحت

د خوشحال رزمیه شاعري ځوانانو ته په دنیا کښې د کامیابۍ او عزتمند ژوند تیرلو درس ورکړي او طریقه ورته هم ښائي چې څنګه یو ځوان کامیابه کیدے شي۔

## خوشحال بابا وائي:

په جهان د ننګیالي دي دا دوه کاره
یا به اوخوري ګګرې یا به کامران شي

په دې شعر کښې شاعر د يو غيرت مند ځوان
د پاره دوه لارې سېده کوي چې دغه ته
په دې دوه لارو کښې په يوه خامخا تلل دي
او بله څه چاره ئې نشته - وائي چې د
ځو يا په دې خپل کوشش کښې د محنت
باوجود کامياب نه شي او مړ به شي پکښې
او يا به دے کامياب شي - د خوشحال په
نظر کښې دا دواړه صورتونه کاميابي ده - که
دے مړ شي نو هم په دنيا کښې به د يو بهادر
په نوم ياديږي او عزت به پيدا کوي او که
کامياب شي نو بيا ئې هم دغه مقصد پوره شو -
په دواړو صورتونو کښې عزت حاصليږي کوم
چې په دې دنيا کښې د يو انسان د پاره ضروري
څيز دے - د خوشحال بابا په نظر کښې ده
بے غيرته د ژوند نه هيڅ څه قدر نشته دے -

## Q2 د خوشحال بابا رزميه شاعري د وطن د پاره

د خوشحال بابا د شاعرۍ نه داسې معلوميږي
چې د ده سينه د خپل وطن د پاره ډيره زياته

ده او دوئ د وطن دپاره د هر قسم کوشش او جنګ په حق کښې دي ـ خوشحال نه صرف لوړه پښتو ژبه د خپل وطن او ملت دپاره د لوړې راغستو بلنه ورکړې بلکه پخپله ئې د خپل عمل نه هم ظاهره کړې ده د وطن دپاره ئې د دشمن خلاف لوړه راغستې چې د دغه ذکر دې شعرونو نه ظاهره ده

پس له بنده دے دا الزام
د خوشحال د خاطر جزم
یا به وله مخ هلکې لته
یا مغلو سره رزم

په دې اشعارو کښې دا ظاهره ده چې خوشحال بابا د زندان نه د راخلاص شو نو د مغل خلاف د لوړې راغستو اراده ئې وکړه څو او د مغل نه د خپل وطن د آزادولو کوشش شروع کو ـ د غه شان د وطن مینه ئې د لوبل شعر نه هم معلومیږي چې څه دا رنګ دے.

د افغان په ننګ مې وتړله توره
ننګیالے د زمانې خوشحال خټک یم

غرض دا چې د خوشحال خان په رزمیه شاعرۍ

___/___/202                                   Day:______

کښې د وطن سره ده بې حده مینې علاوه
ډیر زیات دي او ډیره شاعري يې د وطن
د حفاظت د کوششونو نه ډکه پیره شوی ده

## 3) د خوشحال بابا رزمیه شاعري د مغولو خلاف

د خوشحال بابا په رزمیه شاعري کښې
دا ښکاره ده چې د خوشحال د مغولو سره
دشمني وه او مغل باچا ته يې د پښتو
د لوی دشمن په نظر کتل لکه لو شعر کښې
وائي:

ـــ چې په لوم پښتون غوښنېږي خوشالیږي
اورنګزیب یعنی باچا دے د اسلام

دا دې شعر نه دا معلومیږي چې د مغل باچا
اورنګزیب چې د لوی اسلامي باچا په لوم يې
شهرت لرلو خو د دې باوجود خوشحال خان
بابا اورنګزیب ته د پښتون د دشمن په نظر
کوري او پښتنو ته دا نصیحت کوي چې
کور دے د اورنګزیب په دغه اسلامي
جامه دهوکه نه شئ خکه چې په
اصل کښې دا د پښتنو دشمن دے
د خوشحال بابا په شاعري کښې د مغولو خلاف
شعرونو نه د مغل حکومت د لیفاوت خبر
بوی راځي. لکه وائي چې

اطاعت د اولاالامر ځکه نه کوم
خلیفه د زماني په زړه کافر دے

دا شعرونه د مغل حکومت نه د خوشحال بابا د بغاوت ګواهي ورکوي او وائي چې اګرچه د اسلامي احکامات په رڼا کښې د مسلمان امیر اطاعت لازمي دے خو ځکه د دې امیر اطاعت ځکه نه کوم چې دا امیر په ښکاره خو مسلمان ښکاري دے خو د زړه نه کافر دے ځکه چې د پښتنو مسلمانانو دښمني کوي او ډیره ئې لټوي - پس معلومه شوه چې د خوشحال بابا رزمیه شاعري د مغل خلاف د شاعرۍ نه ډکه ده -

## ۴) د خوشحال بابا په رزمیه شاعرۍ کښې د اوسني دور د پښتنو دپاره سبق:-

د خوشحال بابا رزمیه شاعري د اوسني دور د پښتنو دپاره ډیره فائده منه ثابت کیدے شي که چرته پښتانه په صحیح معنو په دې اول ځان پوهه کړي او بیا پرې عمل اوکړي - د خوشحال بابا رزمیه شاعري پښتنو ته د نړولو د حقیقتو حقیقتونو د شلیدولو درس ورکوي، د دوښ

او دښمن د پېژندو طریقه وربښائي او
د اتفاق او اتحاد د برکت مثالونه ورکوي
کله دائي چې

که نوره چاره د پښتنو تر مغل ښه ده
اتفاق ورسره نشته ډیر ارمان دے
که توفیق د اتفاق پښتانه مومي
زوړ خوشحال به دوباره شي په دا ځوان

د دې اشعارو نه دا ظاهره ده چې ~~که~~ ده
نن سبا پښتانه هم د کم چا نه ښه دي او
په دنیا کښې لو ښه قوم پیدا کولے شي
او د خپلو مشرانو په شان په دې علاقو
په بیا حکومت او بادشاهي کولے شي که
چرته دوی خپلې باهمي جګړې ختمې کړي
او د اتفاق نه کار واخلي. مګر چې
د اتفاق او د یو ځاے والي د وجې نه دوه
د لښکرو کښې نه صابرو هم دغه شان که
پښتانه یو ځاے شي نو په دا دنیا کښې
داسې قوت نشته چې د جهاد د پښتنو
قوم په مخه کښې ~~ودریږي~~ ودریږي او ده
دوی د ترقۍ او پرمختګ لاره اونیسي

د دې لعل بخش پژوهم دا شو چې
د خوشحال بابا رزمیه شاعري په اصل
کښې د پښتنو ځوان د همت او جهاد ږغ
قصه ده، دغو نګره ځوان د خپل وطن سره

___/___/202 Day: ______

بې حده حینه ده، او د یلو احساس نه ده
ډک انسان د سافراځ خلاف بودریدل دي -
دغه شاعري د پښتو ادب سره یلو احسان
دے او د پښتو دپاره د یلو څقترین تحفي
له کمه نه ده - خدائے دي اوکي چه
پښتانه د خوشحال بابا شاعري په صحیح
توګه فیله کړي او عمل پرې اوکړي
او د خوشحال بابا روح ته د خوشحالۍ
او راحت یلو وجه جوړه شي -